# باچا خان
# د امن مشال

(د باچا خان په ژوند او فلسفه انګرېزي فلم)

**د انګرېزۍ نه ترجمه او تلخيص**




په مغرب کښې ډېر خلق د باچا خان او د هغۀ د عدم تشدد د فلسفې نه ناخبره دي. باچا خان به په دې خبره ډېر زور ورکوو چې د مذهب په نوم کوم تشدد کېږي د هغې د الله تعالې په دين کښې څۀ مقام نشته. د هندوستان د ګاندي جي په رنګ باچا خان ته د مسلمانانو سرحدي ګاندي وئيلے شي ولې چې دې دواړو همېشه د ظلم زياتي د مخنيوي د پاره د امن لار اختيار کړې وه.

باچا خان چې د پښتون قام يو لوئے ليډر ؤ د 98 کالو په عمر په کال 1988 کښې په پېښور کښې په حق ورسېدو. د وفات نه وړاندې باچا خان د عوامي نېشنل پارټۍ په نوم يوه پارټي جوړه کړې وه چې نن سبا د پښتونخوا قبائلي علاقو کښې د تشدد خلاف کوششونه کوي.

د ستر پښتون رهنما باچا خان په ژوند جوړ کړے شوے فلم په 8 نومبر 2008 په نيويارک کښې د مهندرا انډو امريکن آرټس کونسل فلم فستېول کښې وړاندې کېدونکے دے. د دې فلم نوم Frontier Gandhi: Badshah Khan: A Torch for peace دے. د دې فلم جوړونکې ټي سي لوهان T.C Macluhan ده چې د مشهور کېنېډېن مېډيا تهيورسټ مارشل لوهان Martial Macluhen, Theonse لُور ده. په دې فلم هغې 21 کاله محنت کړے دے. د دې ډاکومنټري فلم جوړولو په سلسله کښې دې څو ځله د افغانستان دورې کړې وې، تر دې چې 9/11 نه پس په افغانستان کښې په سخت

جنګي حالاتو کښې هم هغې خپل مهم جاري ساتلے ؤ. هغې د دې فلم شوټنګ په افغانستان، پاکستان، هندوستان او د صوبه سرحد مختلفو علاقو کښې کړے دے.

ټي سي لوهان وائي چې هغې شپږ ځله د خېبر په لاره افغانستان ته د دې فلم په سلسله کښې تللې ده. د فلم د تکميل د پاره د فلم Official ممبرانو سره د طالبانو دور حکومت کښې ملاو شوې وه، دې فلم د پاره هغې ډېر ناممکنه حالاتو کښې شوټنګ کولو، تر دې چې څو څو ځلې خو پوليس د هغې نه کېمره اخستې او غورځولې ده خو هغې بيا هم همت ونۀ بائللو او بالاخره چې کوم کار ئې په ستمبر **1987** کښې په دې فلم شروع کړے ؤ هغه ئې **21** کاله پس سر ته ورسولو.

ټي سي لوهان وائي چې د فلم جوړېدو په حقله زما جذبه هغه وخت پېدا شوه کله چې ما ته يو ملګري په ستمبر **1987** کښې په برکلے Barkely کښې د ای‌کنات ای‌سوارن يو کتاب د "د عدم تشدد اسلامي سپاهي" په نوم راکړو. کله چې ما دا کتاب ولوستو نو ډېره حېرانه شوم چې زۀ خو د دنيا د دې اړخ نه هډو خبر نۀ يم او درې هفتې پس ما په دې فلم کار شروع کړو.

د فلم جوړېدو په سلسله کښې هغې د جنوبي ايشيا د مختلفو شخصياتو سره مرکې وکړې کوم کښې چې د افغانستان اوسنے صدر حامد کرزے هم شامل دے چا چې باچا خان په خپلو سترګو د هلک والي په عمر کښې ليدلے ؤ او د کرزي دغه يادونه د فلم يوه اهمه حصه ده. د دې نه علاوه د پاکستان سابقه صدر پروېز مشرف نه هم انټرويو اخستې شوې ده.

دا يو صحيح تاريخي فلم دے او دې کښې د Richard A Henborough فلم "Gandhi" کوم چې په **1982** کښې جوړ شوے ؤ د هغې هم څۀ خصوصيات شته، دغه فلم کښې د باچا خان يو وړوکے کردار هم ؤ.

دې فلم کښې لوهان د باچا خان د ماشوم والي ژوند، د هغۀ نظريات، ګاندي جي سره ملاوېدل او د هندوستان تقسيم ښودلي دي.

په دې فلم کښې لوهان پېرنګي افسران Official هم ښودلي دي چې څنګه سلطنت برطانيه خپل فوځ په قبائلي علاقو کښې د علاقائي اثر رسوخ حاصلولو د پاره د روس خلاف لويه لوبه کښې استعمال کړے دے. پېرنګي پښتنو طرفته هېڅ قسمه توجه ورنۀ کړه په دغې وخت کښې باچا خان غريبو او جټو پښتنو کښې د تعليم او ترقۍ د جذبې پېدا کولو کوشش وکړو، هغۀ خپل پښتانۀ په دې خبره راضي کړل چې ټولې دښمنۍ او تربګنۍ پرېږدي د کومو په وجه چې پښتانۀ وروستو پاتې شوي وو.



د 20 کالو په عمر کښې باچا خان په پښتنو کښې د معاشرې د اصلاح د پاره يو سکول جوړ کړو. لوهان وائي چې "باچا خان د عدم تشدد د فلسفې بنياد د ګاندي جي سره ملاوېدو نه وړاندې ايښے ؤ. دې فلم کښې باچا خان په يوه موقعه وائي چې "زما په رنګ نورو پښتنو او ټولو مسلمانانو کښې د عدم تشدد فلسفه څۀ نوې خبره نۀ ده بلکې دا د نن نه 1400 کاله وړاندې پېغمبر صلي الله عليه وسلم په خپل عملي ژوند کښې ښودلې وه، کله چې هغه مکه کښې ؤ" (دا خبره په فلم کښې هندوستاني اداکار اوم پوري کړې ده).

باچا خان د خدائي خدمتګار په نوم يو تحريک شروع کړو او د دې تحريک د ممبرانو د جامو رنګ سُور ؤ. د لوهان مطابق د خدائي خدمتګارانو شمېر د يو لک پورې ؤ خو ځينې خلق دغه شمېره درې لکه ښيي. د هغې وجه هغوي دا ښيي چې دې کښې نۀ يواځې مسلمانان بلکې هندوان، سکهان، عيسايان او بدهـ مذهبه خلق هم وو. د دې فلم د پاره هغې څۀ 82 خدائي خدمتګاران راجمع کړي دي چې پکښې پنځۀ زنانه خدائي خدمتګارې هم دي او د دغې خدائي خدمتګارانو عمرونه تقريباً د 80 او 90 کالو تر منځ دي. دغې خدائي خدمتګارانو کښې يو خدائي خدمتګار خپله هغه سره وردي تر اوسه سمبال ساتلې ده. دې فلم کښې دغه خدائي خدمتګارانو کار هم کړے دے.

د عدم تشدد د فلسفې حوالې سره باچا خان په خپله انټرويو کښې وائي چې "زمونږ دښمنان کۀ مونږ وژني خو مونږ به ئې نۀ وژنو، دوي کۀ مونږ ته څۀ نقصان رسوي خو مونږ به دوي ته نقصان نۀ رسوو" د لوهان مطابق چې کله د باچا خان نه تپوس وشو چې "د عدم تشدد فلسفه څۀ ده؟ نو هغۀ ورته په ځواب کښې ووې چې عدم تشدد صبر ته وائي.

فلم کښې د ټولو نه اهم څيز يو نظم دے کوم چې د اردو او پښتو په شمول په شپږو ژبو کښې وئيلے شوے دے. دا نظم خدائي خدمتګاران د پېرنګي دور کښې په جېل دننه د قېد دوران کښې وائي او دا سوګند پورته کوي چې مونږ د باچا خان د عدم تشدد فلسفه خپلوو. د دې نه پس موسيقي شروع شي او دغه نظم د دې الفاظو نه شروع شي.

I am Khudayee Khidmatgar and as God needs no services serving his creation is serving him. I promise to serve humanity in the name of God.

باچا خان ته چې کله د انډين نېشنل کانګرس ليډرشپ آفر وشو نو هغۀ ترې په دې وېنا انکار وکړو چې "زۀ د ګاندي جي په رنګ يواځې يو سياسي شخصيت جوړېدل نۀ غواړم."

د ګاندي جي په رنګ په باچا خان ليکلے شوے ريکارډ دومره نشته خو بيا هم دې فلمسازې د باچا خان او ګاندي جي يو ځائے يو څو تصويرونه راپېدا کړي دي.

په اوسني حالاتو کښې چې افغانستان او پاکستان کښې اوسېدونکي پښتانۀ د تشدد پسندو او شرپسندو په نامه دنيا ته وړاندې کولے شي، د دې فلم اهميت نور هم سېوا کېږي.

په باچا خان او د هغه په عدم تشدد جوړ دې فلم کتو ته د پرانستې نه وړاندې وړاندې مېډيا والا او نور خلق ډېر لېواله دي.